دمقالی لیکونکی : Michel chossudovsky and Finian cunnigham

منبع اودنشریدو تاریخ : گاوبال ریسرچ ددسمبر لسم کال ۲۰۱۱

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»



دامریکی دمتحده ایالاتو ، بریتانیا او ناتو دغړو هیوادونو ګډ سمبول اوبیرقونه

# دجنګ نړیوال کیدل

## THE GLOBALIZATION OF WAR

## «دنظامی نقشي لیار» ددریم نړیوال جنګ دپاره

## the military roadmap to world war !!!

### سریزه :

* دپناګون نړیوال نظامی پلان دنړی دنیولو اودفتح دپاره.


* اوس اوس دنړی په زیاتو سیموکی دامریکی اودناتو دقوتونو ځای په ځای کیدل.

داوړدی مودی د(جنګ جګړی ) مفکوره اوکانسپت وروسته ددوم نړیوال جګړی څخه دمتحده ایالاتودنظامی ستراتیژی اودوکتورین په اوصافوباندی واغوښت یا په بل عبارت دجګړی اوږدونه دامریکی د نظامیګری یوله نه شلیدونکی اوصافو څخه شمیرل کیږي، دنړیوال د نظامی پراخوالی له واکمنی اووسعت څخه اوبیا دامپریالیستی د پروژی دهدف

ښخه دملا تړمساله دی چی په لمړی ځل کی دترومن ددولت د(۱۹۴۰) کال په وروستیو اودسړی جګړي په پیل کی سره فورمول بندی شو .

جورج هربرت واکربوش دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور ریس اود هغه هیواد د نظامی قوتونو اعلی سرقوماندان اوه اونی وروسته له هغه نه چی صدام حسین د عراق جمهور ریس پرکویټ باندی یرغل وکړ د متحده ایا لاتو د کنګرس اود سنا په رابلل شوی ګډه جلسه کی د برلین ددیوال په رانسکورید اود شوروی اتحاد په ړنګیدو او د مینځه تلو په نظر کی نیوو سره په یوه اعلامیه کی د نړی دنوی نظم مساله اعلام کړ .

مشر بوش پخپل وینا کی د (سولی اود ګډ همکاریو نړی ) وړاندیزوکړ هغه نړی چی دلویوقدرتونوترمینځ یودبل دمینځه وړلو(Mutually Assured Destruction) مفکوره خوندی شوی وه اود سړی جګړی له دوکتورین ښخه شمیرل کیدل نور به موجود ونه اوسی اوخپل ښپی به سپکې کړي .



جورج هربرت واکربوش دمتحده ایالاتو پخوانی جمهورریس اودنظامی قوتونوعلی سرقوماندان
دکنګرس ا ود سنا په ګډه غونډه کی په کال (۱۹۹۰) کی دوینا په حالت

بوش دخپل وينا  په پيل او په لمړی سرکی په پوره ډاډ اويقينی سره  له هغه نه چي (دسړی جګړی ددوران ) په نوم معروف اومشهور وه  داسی  اعلام وکړ :

[د ملتونو اودهيوادونو ګډه همکاری  به پيل شي  اومونږ په  دغه ډير حساس  اوفوقالعاده شيبه اوپړاو کی بايد په يورنګی اوپه وحد ت سره خپل دريځ وساتو اما داهم ديا دوني وړ بولم چي د پارس يا دايران دخليج ستونزی اوبحرا ن لکه دګور په ځير(قبر)  مونږ خواته خپل خوله خلاصه کړی اوغواړی چي زمونږ  څخه فرصتونه  او موقع  واخلی کوم چي مونږ ونشوکړی چي په دغه تاريخی پړاوکی دګډی همکاريو  په لور تينګ ګامونه پورته کړو اوهغسی يوه نوی نړی را مينځ ته کړوچي په هغه کی له ترور څخه ډار موجود ونه اوسی ، هلته عدالت حکومت وکړی  او خلک په سوله  کی ژوند وکړی  يعنی دنړي ټول هيوادونه  که په شرق ،غرب ، شما ل اويا که په جنوب کی دی په يوه بشپړه امنيتی فضا کی ژوند وکړي .]

دلته هيڅ دشک اودشبهی ځای نشته اوهغه داچي د امريکی د جمهور ريس  بناغلی  بوش  وينا  له هرپلوه يو مبتذل اوله  تنا قضا تو څخه يوه ډ که  وينا وه  او دهغه  په وينا کی له تعجبه ډ که مطلب خودا دی کوم چي هغه  دنړی د بين المللی پرقوانينو اوپرعدالت باندی دخپل دريځ ملاتړ اعلا موی حا ل داچي  يواځی ځومياشتی وروسته له هغه نه چی دهغه دهيواد نظا می قوتونه په کال ( ۱۹۸۹) د دسمبر په مياشت  کی پر پا نامه باندی  يرغل ويوړل اود يرغل په نتيجه کی په زرګونو دهغه هيواد خلک  خپل ژوند  دلاسه   ورکړل  څنګه کولی  شی چی د خپل جنا يا تو لړلی  يواځی پر صدام حسين با ندی   واچوی  ايا دامريکی د نظامی جنا يا تو پيما نه د صدام حسين دجنا يا تو سره دپرتلی وړبلل کيږی .

يا داچی همدغه دمتحده ايالاتو يرغل کونکی نظاميان وه کوم چي  په  (۱۹۹۱)  کال کی دخپل ناتو دايتلافی قوتونو سره په ګډه  د بشری کمکونو درسولو تربهانی اوعنوان لاندی پريوګوسلاويا با ند ی يرغل وکړل  هغه هيواد کی وځپل او په ټوټو يی تجزيه  او  دهغه هيواد ارضی تماميت ته دپای ټکي کيښود مګر سره له هغه هم بيا دعدالت اودبين المللی قوانيو څخه دملا تړدريځ اعلاموی .

په هرصورت دښاغلی مشر بوش وينا  له يوه اړخه د(نوی نړی نظم )  تر سرليک لاندی کيدای شی چی ديورفرنس په توګه پکارويوړل شي سره دهغه  چي په درامتيکه بڼی سره زمونږ نړی د (۲۰) کالو يعنی دسړی جګړی په دوران کی دهغو  دلاس وهنوڅخه  يوه شيبه هم خوندی نه وه   نواوس  څرنګه  کيدای شی  چي په ځانګړی او يواړخيزه توګه ، سره د هغه چي دکلنتون ،کشر بوش اوداوباما اداره دخپل له غرضه ډک لاس وهنو څخه هريودخپل واکمنی په دوره کی حتی چي په ګذری ډول سره صرفه ونکړل په بين المللی عرصه کی  دنړی  پر بد لون اوتغير باندی خبری وکړو .

د سړی جګړی څخه وروسته مشر (بوش) د نړيوال  سولی د وعدی  دروازه  د  جنګ  جګړی  اود اقتصادی بی ځا يه کيد و(خلع) ،ټولنيز ويجاړی او د  چاپيرياِل  د دوامدار

ورانی (تخریب) سره یوځای پرانیستل .
هغه یعنی مشر بوش په خپل پرانیستی وینا کی یوډیر تریخ او له سپکاوی ډ ک مطلب ښخه یادونه وکړ یعنی دنړیوال سوله ایز ګډ همکاریو وړاندیز کوم چی هغه په هیڅ بنه پرهغه باندی باور نه لری اوهیڅ وخت له هغه ښخه ملاتړ نه کوی بلکه د هغه له وینا ښخه مطلب دا وه چی دهمدی وړاند یزترسیوری لاندی دیوی بلی بهانی د پلی کولو دپاره لاری چاری چمتوکړی چی له هغه ښخه پوره ګټي تر لاسه کړی او هغه دخلیچ دجګړی پیل د کویټ دهیوادد ځمکنی بشپړتیا ا ودهغه هیواد له حاکمیت ښخه ساتنه او دبین المللی قوانینو د رعایت په بها نه په کال (۱۹۹۰) کی د امریکی نظامی قوتونو پر عراق باندی یرغل وکړل.اود خند ا ځا ی خو دلته دادی چی دیوی هیواد د حاکمیت ددفاع په خاطردبل هیواد حاکمیت ترپښو لاندی کول څه معنی اومفهوم لری غیر له دی نه چی بوش دمتحده ایالاتو د ګټی د تامین لپا ره د نړی د خلکو په سترګو کی د پلمو په جوړولو سره خاوری واچوی .
نړیوال جنګ(Global Warfare) :مونږدیوی نظا می نړیوال اجنداسره مخامخ یو کوم چي هغه د (نړیوال جنګ) په معنی اونوم سره یا د یږی اوله نړیوال سوله ایز ګډ همکاریو ښخه په واټونولری پروت یاستو یعنی په یوه دایرانیا نو په اصطلاح په یوه ناکجا آباد (Dystopian یعنی هغه ټولنه چي په هغه کی سر بیره پر دی چي فردی آزادی وجود نه لری دخلکو ژوند هم تر کنترول لاندی نیول کیږی ... مترجم ) دوامدار جګړه ایز ټولنه کی ژوند کوو ، هغه جګړی او جنګونه کوم چی دنړیوال قوانینو سره په ښکاره تناقض اود نړی دعا مه خلکو د ا فکاروسره پرضد ترسره کیږی (اودهغه مسول همدغه د ګټو د ترلاسه کولو لیونی پانګوالان دی چی د نړی پرهر ښنډه کی د جنګ اود جګړی لمن ته پراختیا ورکوی .... مترجم ) .
لری له هغه عصر( دسولی اود پوره امن اوټیکاو دتر لاسه کولو له عصر ) ښخه یعنی په داسی یو نړی کی ژوندکوو چی دجورج اورال (George Orweel) دنړی د توصیف سره ورته والی لری کوم چي هغه دغه ډول نړي په ( ۱۹۸۴) کی داسی تعریف کړی وه : د تلپا تی شخړی ،ناامنی ، استبدادی نظارت ،متضاد غبرګون باوررونو او دعامه خلکو د ذهنونو د کنترول تر سلطی اوحاکمیت لاندی نړی ( په متحده ایالاتو کی اوس دخلکو تیلیفونی خبری اتری ، ناسته ولاړه ، سفرونه ، بانکی راکړی ورکړی او ... ....تر شدید کنترول لاندی دی .. مترجم ).
هغه غټه ستونزه چی دمتحده ایالاتو اویا دنړی اکثروخلکو دهغه سره لاس په ګریوان دی هغه عبارت له متضاد غبرګون انګرینه اود عامه ذهنیتونو کنترول دی چی د مسولوو مقاما تو له خوا په ډیر ژور پیما نی سره ترسره کیږی اودهغه انتشار اوخپرول د ډله ایزو رسنیو پواسطه سره اوبیا په ځانګړی ډول د یو ډیر کرغیرن او وراسته مطبوعتی

آژانس له خوا يعنی دنيويارک ټايمز اود ګاردين پواسطه سره خپريږي چی اوس ټولو




خلکو پرهغه باندی پوره پوهيږي .

## د- ۹/۱۱ ښخه وروسته دوران:دامريکی دکترين دمخکی له مخکی جګړی ښخه:

اوس داسی ويل کيږی چی پرنړيوال تجارتی مرکز باندی دسپتمبر يولسم کال (۲۰۰۱) ديرغل د پيښی مسوليت دالقاعدی پرغاړه اچولو کی پنتاګون د نړی د خلکو د ذهنيتونو اودافکارودراجلبولو اودهغودملاتړ دترلاسه کولو دپاره محوری او بنسټيز نقش ولوبول ، اود پنتاګون يا دسپين مانی د واکمنانو يوله اصلی اهدافو ښخه جنګی تبليغا تو ته پراختيا ورکول اوپه جعل سره دامريکی ښخه دباندی ( دښمن جوړونه ) وه چی دهمدی اصل په نظرکی نيولو سره دجنګ جګړی دپاره شخصيت جوړونو ته اقدام وکړل اوددی يرغل د پاره په جعل سره هغه شخصيت چی بايد پرهغه باندی دا تور ولګول شی هغه اوساما بن لادن وه چی هغه يی نړی ته ديو تروريست په بڼه رسوا کړ اوپه ډاګه يی کړ چی امريکا ددی سړی اودهغه دپيروانو له خوا تر تهديد لاندی دی .




مخکی له مخکی جګړه په مستقم بنی سره د (اسلاميک تروريزم ) په وړاندی دهيوا د ساتنی اوددفاع په حاطر ضرور وه چی بايد اقدام شوی وای ، لاکن واقيعت ته بل ډول رنګ اوڅيره ورکړ شو اوهغه داچی امريکی تر يرغل لاندی پريوتی دی .

د ۹/۱۱ له پيښی ښخه وروسته د (باندنی دښمن ) جوړونی داصل په پيروی سره کومه چی ترسره شو په واقيعت کی دامريکی په رهبری سره جګړه په مينځنی ختيځ اومرکزی اسيا کی درينښتيانی اقتصادی ستراتيژيکی اهدافو پټونه او په ترړمی کی غورځونه وه

چې دامریکې څخه ددفاع تر سرخط لاندې په کار ویوړل شو او له ځانه څخه د فاع د «پیشګیرانه جګړې»اود(عادلانه جګړې )دبشرخواهانه مرستې ترعناوینو او اصطلاحاتو د پکار وړلو سره د خپل تبلیغاتي بازار ګرم کړل .
د امریکې د متحده ایالاتو اطلاعاتې دستګاه دشوروي – افغان جګړې له پیل څخه په کال (۱۹۸۰) کې د «اسلامي بریګاردانو» دتشکل او جوړیدو څخه په ملاتړ ددې په نیت چې دالقاعدې دشبکې تاریخي پس منظر باندې خاوری واړوی په یولړ اقداماتو لاس پورې کړ چې یوله هغو اقداماتو څخه یو هم د( شواهدو وژنه ) وه چې څرنګه (خارجي دشمن ) یعنې هغه دښمن چې پخپل لاس یې جوړ کوي وه هغه د خپل لمړي نمبر د ښمن په بڼه وا ړوي .
د متحده ایالاتو اطلاعا تې دستګاه خپله اوپخپل اراده سره تروریستي سازمانونه جوړکړ ، او بیا په عین وخت کې خپل جوړ کړې شوي تروریستي سازمانونو ته خبرتیا ورکوي چې دخپل ځان پام وساتي اوبیا د بلې خوا څخه د ملیاردونو ډالرو په لګښت سره د تروریزم سره دمبارزې په ضد پروګرامونه ترلاس لاندې نیسي اود تروروستانو پسې پښې لوڅوي( او دهغو ترشا ځې) اونوموړي سازمانونه یې پخپل ځای کې پرځای کوي .
* مونږ وویل چې د «جنګ» اویا د «دولتي تروریزم » په عوض دتروریزم سره جنګ اومخالفت د « بشردوستانه مداخلې » په رڼا کې .
* مونږ وویل چې دیرغل پرځای «دفاع» اویا «ساتنه» .
*مونږوویل چې د ډله ایز وژنې (قتل عام ) په عوض «جانبي خسارې اویا نقصان» دبد اودشر په مقابل کې دوه ګونې نظریې یا دوه دستګې اودجنګ عاملین اومجرمین دقربانیانو په نوم سره یادول پخپله عامه افکارو ته تاوان رسول خلک بې لارې کول دي حال داچې مونږباید دشر اودشرارت دټولو ډولونو په ضد دخپل غربي هویت اود ژوند د ساتنې د پاره وجنګیږو.

دومره لوڅ دروغ اوغلطې اوبیا داسې ارزونه چې زمونږ جنګونه په واقیعت کې دانسان دوستې دتعهداتوپرستنو ولاړ دي چې دا پخپله زمونږ دانساني اوصافو نه شلیدونکې برخه تشکیلوي دانو صاف اوساده دخلکو په سترګو کې خاوري پاشول دي اوداځکه چې دا په واقیعت کې دنړیوال جنایي وژنې دپروژې څخه سترګې پټول دي هغه پروژه چې دوی دهغه په رڼا کې ګټه اوسود ترلاسه کوي اوددغه سوددلاسته راوړودپاره هلې ځلې ددغو سود خورو په پروګرام کې نظامي برنامې اواجندا محوري نقش لوبوي کوم چې ټول انساني ارزښتونه له مینځه وړي او غواړي چې خلک په نا پوهې کې وساتي او یا په متحرکو مړي باندې یې بدل کړي .



په یوه فلمی نما یشنامه کی یوه ډله هنرمندانو دمتحرک مړو په نقش کی

# نظامیګری تخم پاشونه :جنګ جګړه دیوطبعی مساله په توګه

دنړیوال تحقیقاتواودریسرچونو څخه په اصطلاح د ځنو متمد نو لوستونکو له مشاهداتو څخه داسی راڅرګندونی کیږی چی دهغوی په قول هسی چی وايي : مونږ اوس په داسی یوعصر اودوران کی ژوند کوو چی (نړیوال جنګ ) دهمدغو دموکراسی پلو اودنړیوال قوانینو څخه دملاتړو په ګډون سره تر سره شوی دی.

دیادونی وړمطلب خودادی چی ددغه نړیوال جنګ سرغن او اتل دامریکی متحده ایالات اودهغه سره دهغه دشمالی اتلانتیک دتړون سازمان (ناتو) ایتلاف اوبیا بریتانیا، فرانسه ، کاناډااوجرمنی په ځانګړی بڼی دنورو په مینځ کی نژدی ملګری اوهم د پارس د خلیج سره نژدی پرتی عربی هیوادونه په لیکه کی شامل استاذی دی کوم چی په منطقه اوپه نړی کی دنظامی یرغل تمرینا ت ترسره کوی دیرغل اودجګړی پاره چمتوالی ښیی.

دبلی خوا څخه باید په یاد کی وساتو اوهغه داچی دمتحده ایالاتو جمهور ریس ښاغلي اوباما دخپل هغه سفر په ترڅ کی چی دنومبر میاشت کال (۲۰۱۱)داسیا او دآرام سمند ر څخه ترسره کړ ، هغه پخپل یو پرانیستی وینا کی پرچین باند ی له خصومته ډک لفظی یرغل وکړ اوزیاته یی کړ چي چین ددغه نیمی وچی دپاره د نظامی ګواښ په بند وبست کی زیار باسی ،مګر پیکنګ باید په دی پوه شي چي دامریکی متحده ایالات ددی ډول ګواښونو د مینځه وړلو د پاره بشپړچمتو دی او کولای شی چی دچین سره مقابله کړی ، دیادونی وړ مطلب دادی چي دغه ډول بی ساری لفظی ګواښ د ډیرو کارپوها نو د پاره اصلاً دمنلو وړ موضوع نه ښکاریده اوچا دداسی یرغل توقع نه درلود ، مګر غربی ډله ایز رسنی دامریکی دغه تهاجم او جنګ طلبی یوه نورما ل او عادی موضوع وګڼل اوداسی څرګندونه وکړ چی دا یوه طبعی مساله دی .

دغه دپلان سره سم نظامیګری تخم پاشونه دمختلفو پلمو اودبهانو په جوړولو اوتوجیه کولوسره په ډیر مهارت او زیرکی سره تر سره کیږی لکه دنړی دامن او مصونیت تر عنوان لاندی د«اسلامیک تروریزم » سره مقابله په افغانستان کي ، دنړی دامن دتامین

دپاره د ډله ایزو وژنکو سلاح ګانو په مقابل په عراق کی د صدام حسین او په اوسنی حال کی دایران سره ضد مبارزه ، دبشر دحقونو څخه په ملاتړ په لیبیا کی دانسا نی مرستوپه نظرکی نیولو سره ښکارمداخله یعنی په اصطلاح سره بشر دوستا نه لاس وهنه دچین سره نانډری اومخالفت داسیایی هیوادونو په استاذیتوب سره ، دروسسی سره په سرحد کی دشرقی اروپا د هیوادونو دامن د تامین تر بهانی لاندی د بالیستیکی مزایلو دفاعی سیستم ځای پرځای کول اوداسی نور ښکاره پلمی او بهانی کوم چې غربی ډ له ایز رسنی یوځل بیا د دغه غیرمنطقی غلط اود نا روا غوښتنو څخه په د فاع کی خپل قلمونه تیری کړی اوغواړی چی لکه د اوریل (Orwell’s) د په اصطلاح د حقیقت د وزارت په ورته بڼی سره کوم چی هغه په (۱۹۸۴) کی وړاندیز کړی وه دهغه نظریا تو ته وده ورکړی اوپه دی توګه اوبو خړی کړی اوکبان ونیسی .
مونږ ممکن چی دغه پلمی اوبهانی ددی هڅی په بیه اوقیمت چی په نړی کی وضع ته (عادی ) بڼه ورکول کیږیږی کوم چي په ښکاره ډول په نړی کی اړدوړ اومخالفتونه ترسترګو کیږی دهغه دپوښلو دپاره غربی مید یا وضع مونږ ته بل ډول را وښیی حال داچی مونږ په بشپړه توګه وینو چی له نړیوال قوانینو څخه سر غړونه اود خلکو په مینځ کی د ډار اود نا امنی اور ته پکی وهل کیږی چی اوس دنړی ټول خلکو پر هغه باندی پوهیږی اودهغه عاملین هم پیژني .
زمونږ هدف دادی چی دغه لوستونکی هغه تعامل په کار وړی کوم چي ښاریان دجنګ په وړاندی دغبرګونی ذهنیتونو یا ددوګونی اندیښنی کولو په لوربیایی یعنی غواړی چی جنګ دخلکو په ذهنیتونو کی په یوه عادی موضوع واړوی لاکن مونږ هڅه کوو چی دیونړیوال نظر سنجی له مخی خلک دی ته راوبولو چی متحده ایالات اودهغه ایتلافی قوتونه د یوی پراخی نقشی اویا دیودستور دبشپړولو په لوری روان دی یعنی غواړی چی پر نړی باندی بشپړ تسلط ولری یعنی هغوی غواړی چی د خپل هدف دسرته رسولو په لاره کی هر ډول خنډونه لری کړی جنګ اونړیوال نظامیګری ته پراختیا ورکړی اوپرخلکو باندی خپل تسلط تلپاتي کړي .
دنړیوال جنګ محرکه ځواک اویا دهغه پوری تړلی زور د امپریا لیستی سرمایه داری دولتونو په مینځ کی ډیر ژور تاریخي ریښیی لری ، اوله هر څه نه مخکي دپانګوالی ا قتصاد د پاره داومه موادو رقابت اوجیو پولیتیکی کنترول هغه بنیادی اصل شمیرل کیږی کوم چی دلمړی او ددوهمی نړیوال جګړی موجب وګرځید ل، د ښاغلی جکوس پاول (Jacqes Pauwels) د مقا لی دمضمون په نظر کی نیولو سره داسی راښکاری چی همدغه دامریکی متحده ایالات وه کوم چی دبریتانیا اودنازی المان څخه ملاتړ وکړ اوبیا هم همدغه دامریکی متحده ایالات دی چددوهمی نړیوال جګړی څخه را په دی خوا په ورته بڼی سره په لاتین امریکا ، اسیا اوافریقا کی دشوروی شیطانی امپراتوری

ځخه دخلاصون تر شعار لاندی بی شمیره یرغل تر سره کړ او لاتر سره کوی .
دشوروی اتحاد دړنګیدو ځخه وروسته کوم چی د سرمایه داری سیستم په وړاندی په نړی کی یومتضاد ځواک وه دامریکی متحده ایالات اودهغه متحد ین په ښکاره بڼی سره د دغه دوه لسیزو په موده کی په یواځنی توګه سره دامپریالیستي ولکی اود تسلط ادعا کوی اودهغو دهڅی او د اند انګیزه یا خوزښت د(۲۰۰۸) کال د اقتصادی بحران له پیل ځخه را وروسته زیا ت شدت موند لی دی ، کوم چی هغوی غواړی ددی اوسنی روان اقتصادی بحران ځخه ځان وباسي نوپه همدی بنیاد سره ددغه مړینه اوبحرانی اقتصاد هغه مړینه اود رغښت (دډاونی) ژوراقتصادی بحران کوم چی دساختاری بحران په نوم سره نومول کیږی دهغه دجبران دپاره په نظامیګری فعالیتونه باندی لاس پوری کړی که چیری وشی کړلای چی راپیدا شوی بحران جبران وکړی او دا له امکا نه لری نه دی کوم چی مونږ په دی نژدی وختونو کی د دی بحران اویا د سرمایه داری د سیستم ژور سقوط او تسکوریدو سره به مخامخ نشو کوم چی دهغه په سقوط سره ددی سیستم ټول تجارتی راکړی ورکړی کندی ته ونه غورځیږی اوددی وړاندیز هم باید وکړو چی ددی سیستم پلویان به تر هغه پوری چی په وسه کی لری له نظامی اقداماتو ځخه به لاس پرسر نشي .
دنړی د منابعو اوبیا په ځانګړی ډول د اومه موادو ، تیل اوګاز ترکنترول لاندی راوستل هغه څه دی چی دسرمایه دارانو د دندو په سرکی قرارلری اوټل په همدی هڅه او اند کی دی چی پرنوموړی موادو باندی کامل تسلط ولری اودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره دغه روانه مشاجره چی په عراق ، افغانستان ، لیبیا او ونزویلا کی ترسترګو کیږی او یا داچی ایران ، چین اوروسیه ته ګواښونه کیږی ټول د سرمایه داری اقتصاد دژوند وینه ساتنه دی چی بی له هغه یعنی بی له دغه ژوندی وینه دسرمایه داری دسیستم بقا اصلاً مفهوم نه لری نوپه همدی بنیاد سره ډله ایز رسنی هم دخلکو دباورونو دراجلبولو دپاره په دی مخه چی سرمایه داری اودهغود پلویانو هلي ځلی حق په جانب وګڼی خپل دقلمونو نوکي یی تیره کړی دی .

---

## په دوام

## دوهمه برخه :

# ددریم نړیوال جګړی سناریو